جبريل -عليه السلام- راته همېشه په ګاونډي سره وصيت کاوه تر دې چې ما ګمان وکړ د ميراث مستحق به يې وګرځوي

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «جبريل -عليه السلام- راته همېشه په ګاونډي سره وصيت کاوه تر دې چې ما ګمان وکړ د ميراث مستحق به يې وګرځوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې جبرائيل عليه السلام ورته په تکرار سره د ګاونډي په حق ټينګار وکړ - او ګاونډي هغه څوک دی چې کور ته دې نږدې وي؛ خواه که هغه مسلمان وي يا کافر، خپلوان وي او که نه وي - چې حق يې وساتل شي او ازار نه شي، نيکي ورسره وشي او په آزار يې صبر وشي، (ټينګار تر دې حده و چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ګمان وکړ چې د ګاونډي لوی حق او د جبرائيل عليه السلام ټينګار کيدی شي د دې لامل وګرځي چې وحي پرې نازله شي او ګاونډي ته له مرګ نه وروسته په پاتې مال کې برخه ورکړل شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4965